# په شمالي وزيرستان کې ځانمرګی برید تی تی پی د دروغو ادعاوو ته اړ شو

نن ورځ د شمالي وزيرستان په میرعلي سیمه کې د تي تي پي له ناکام ځانمرګي برید وروسته ، خوارج په دودیزه توګه یو داسې ضعیف او درواغجن داستان وړاندې کوي چې په حقیقت کې هیڅ اساس نه لري او په حقیقت کې د تي تي پي د ماتېدونکي ذهنیت څرګندونه کوي ـ

**په میرعلي کې د پرونئی ناکام ځانمرګي برید نه وروسته د شهادتونو د مبالغه کولو د تي تي پي مقصد خپلو نامرده او بزدله ترهګرو ته د دروغو هڅول دي ، په دې اعلان سره د تي تي پي مشرتابه د خپل مخ پر ځوړ شهرت د ژغورلو لپاره ناکامه هڅه کوي**

**تي تي پي دومره توان نه لري چې په امنیتي ځواکونو باندې ځمکني بریدونه وکړي ، کوم چې په سیمه کې قوي کنټرول لري ، تي تي پي د سخت فشار لاندې ځانمرګو بریدونو ته لاره هواروي ، چې کوم د خلکو ژور نفرت ته وده ورکوي ، د تي تي پي مشران په خپګان اخته کړي. امنیتي ځواکونو د خلکو په همکارۍ د ترهګرو پر ضد خپل عملیات ګړندي کړي او د تي تي پي د خوارج او تسهیلوونکو د عبرت مثال جوړوي ـ**

د شخصي ګټو په دې تش په نامه جګړه کې ، تي تي پي په مختلفو ډلو ویشل کیږي ، چې اصلي لامل یې د مشرتابه غیر عادلانه چلند دی ، له ستونزو سره مخ دي او هڅه کوي چې په جرمي فعالیتونو کې ښکیل شي ـ